ته را

**هرکله چې تاسې په WIC کې د شتون لپاره ارزول کیږئ، تاسې باید د عاید، شناخت او اوسیدو ثبوت وښیوئ.**
د ثبوت نورو ډولونو په اړه د معلوماتو لپاره چې WIC یې منلی شي، مهرباني وکړئ خپل د WIC ځایي کلینیک ته تلیفون وکړئ. د ثبوت پرته تاسې ممکن یوه میاشت مرستې ترلاسه کړئ. تاسې ۳۰ **ورځې** وخت لرئ چې ثبوت وښیوئ او خپلې نورې مرستې ترلاسه کړئ.

## د عاید د ثبوت مثالونه

تاسې باید د خپلې ټولې کورنۍ لپاره د **ټول عاید ثبوت وښیوئ.**

- د اوریګون د روغتیا پلان (OHP) د داخلې لیک
- د SNAP (خوړو سټمپ) د ورکړې لیک
- د هندي ریزرویشن کې د خوړو د توزیع پروګرام (FDPIR) د داخلې لیک
- د ۳۰ ورځو د اوسنۍ تادیه رسیدونه
- خورا وروستۍ د W-2 فورمې یا مالیاتي اظهارلیک
- اړمن کورنیو سره لنډمهاله مرسته (TANF) "د تایید خبرتیا" یا خورا وروستی د "بدلون خبرتیا" لیک
- د رضاعي ماشوم/والدین ځای په ځای کیدو لیک
- د کارګومارونکي لخوا لاسلیک شوی لیک چې ناخالص عاید پکې ښودل شوی وي

## د شناخت ثبوت مثالونه

**هرځله** چې مرستې ورکول کیږي تاسې باید د شناخت ثبوت وښیوئ.

**د ښځو لپاره د ثبوت مثالونه:**

- انځور لرونکی د هویت کارت لکه د ډریورۍ جواز، پاسپورټ یا د ایالت د هویت کارت
- د WIC اوسنی د هویت کارت
- د کار یا ښوونځي د هویت کارت
- د OHP طبي کارت
- د تادیه رسیدونه
- د رای ورکونکو د نوم لیکنې کارت

**د تې رودونکو او ماشومانو لپاره د ثبوت مثالونه:**

- د زیږون تصدیق پاڼه
- د WIC اوسنی د هویت کارت
- د OHP طبي کارت
- د واکسینو ریکارډ
- د روغتون د زیږون ریکارډ
- د ټولنیز مصؤنیت کارت

## د استوګنې د ثبوت مثالونه

استوګنه یعني هغه ځای چې تاسې عموماً د شپې مهال پکې ویده کیږئ. د تابعیت ثبوت اړین ندی.

- د اوریګون د هویت کارت یا د ډریورۍ جواز
- د ټولګټو اوسني رسیدونه
- ستاسې په نوم درلیږل شوي لیکونه یا خبرتیاوې
- بانکي اظهارلیک/بانکي چیکونه
- د کرایه رسید

# د تبعیض نه کولو بیان

د فدرال د مدني حقونو قانون او د امریکا د متحده ایالاتو د کرنې وزارت (USDA) د مدني حقونو مقرراتو او پالیسیو له مخې، USDA، د دې اداري، دفترونه، او کارمندان، او د USDA پروګرامونو کې ګډون کونکي یا د دې پروګرامونو مدیریت کونکي نهادونه د USDA لخوا پرمخ وړل کیدونکي یا تمویل شوي پروګرام یا فعالیت کې د نژاد، رنګ، ملي اصلیت، جنسیت، معیوبیت، عمر، یا مخکیني مدني حقونو فعالیت جبران یا غچ اخیستنې پربنسټ د تبعیض کولو نه منع دي.

معیوبیت لرونکي افراد چې د پروګرام معلوماتو لپاره د ارتباط بدیل وسایلو ته اړتیا لري (لکه بریل، غټ چاپ، غږیز ټیپ، امریکایی اشاري ژبه وغیره)، باید هغه اداري (ایالت یا ځایی) سره اړیکه ونیسي چیرې چې هغوی د مرستو لپاره غوښتنه کړې ده. هغه افراد چې کاڼه دي، په سختۍ اوري یا د خبرو کولو معیوبیتونه لري کولی شي په 8339-877 (800) شمیره د فدرال ریلی خدمت له لارې د USDA سره اړیکه ونیسي. علاوه لدې، د پروګرام معلومات د انګلسي پرته نورو ژبو کې هم چمتو کیدی شي.

د پروګرام د تبعیض شکایت کولو لپاره، د USDA د پروګرام تبعیض شکایت فورمه (AD-3027) ډکه کړئ، چې آنلاین دلته موندل کیږي: http://www.ascr.usda.gov/complaint_filing_cust.html ، او د USDA دفتر کې، یا USDA ته لیک ولیکئ او په فورمه کې غوښتل شوي ټول معلومات په لیک کې ولیکئ. د شکایت فورمې د کاپي غوښتلو لپاره، 9992-632 (866) ته تلیفون وکړئ.

خپله ډکه کړې فورمه یا لیک USDA ته وسپارئ:

(۱) پوست: U.S. Department of Agriculture
Office of the Assistant Secretary for Civil Rights
1400 Independence Avenue, SW
Washington, D.C. 20250-9410

؛ یا

(۲) فکس: 690-7442 (202)

؛ یا

(۳) بریښنالیک: program.intake@usda.gov

دا نهاد د مساوي فرصت وړاندې کونکی دی.

**که تاسې دا معلومات غټ چاپ یا کوم بل فارمیټ کې غواړئ، مهرباني وکړئ 971-673-0040 یا TTY 800-735-2900 ته تلیفون وکړئ.**